پۀ 15 اکتوبر، کال 2026ء (متوقع اِسلامي تاريخ: 2 جمادي الاول، کال 1448ھ) د پاکستان
پۀ هفته وارو اِجتماعاتو کښې کېدونکے بيان

# د عقل مندو نخبې

## (د عقل مندئ د فضيلتونو او د عقل د صحيح تقاضو بيان)

پۀ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عقل مندئ واقعه
- ريشنل اِزم يا جديد بے عقلي
- د عقل مند اِنسان 2 نخبې
- د عقل مند اِنسان روتِين

پیشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة
Islamic Research Center
(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ط وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيِّيْن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْم ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

# د دُرُودِ پاک فضيلت

حضرت فقيه ابو ليث ثمر قندي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: په **عقل مند** باندې لازم دي چې (کله هم) د درودِ پاک نه نۀ غافله کېږي (په ناسته په ولاړه، په ګرځېدو چې څومره کېدے شي درودِ پاک لولي) **ولې---؟؟** ځکه چې

فِيْهَا مَغْفِرَةُ الذُّنُوْبِ وَفِيْهَا الصَّلَاةُ مِنَ اللهِ تَعَالٰى

يعنې د درودِ پاک لوستلو سره ګناهونه هم معاف کېږي او د الله پاک رحمت هم نصيب کېږي- [1]

درود پڑھیے کہ مہکے گلابِ فکر و خیال
سلام پڑھیے کہ چمکے حیات، مثلِ ہلال

درود پڑھیے کہ فضلِ خدا مُدام ملے
سلام پڑھیے کہ لطفِ شہِ اَنام ملے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] ...تنبيه الغافلين، باب فضل الصلاة على النبي صلَّى اللهُ عليهِ وَآلِهٖ وَسلَّم، صفحه:232۔

## د بيان اوريدلو نيتونه

پۀ حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار پۀ نيتونو دے۔ (1)

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! پۀ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي- راځئ چې د بيان اورېدو نه مخکښې څۀ ښه ښه نِيَّتونه اوکړو: مَثَلاً ◈ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ◈ پۀ اَدب به کښېنم ◈ ښه پۀ توجُّه به بيان اورم ◈ څۀ چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ټولو نه زيات عقلمند

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د ټولې دُنيا مخلوق پۀ کومو کښې چې ◈ پيريان هم شامل دي ◈ اِنسانان هم شامل دي ◈ او فرښتے هم شاملې دي بلکې د فرښتو سردار حضرت جبرائيل امين عَلَيْهِ السَّلَام هم شامل دے، پۀ دې ټولو مخلوقاتو کښې د ټولو نه زيات، د ټولو نه کامِل او اکمل عقل خوږ آقا و مولیٰ، مکي مدني مصطفے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته عطا کړے شوے دے-

د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ ښکلو پاکو نومونو کښې يو نوم مبارک دے: اَرْجَحُ النَّاسِ عَقْلاً يعنې پۀ خلقو کښې د ټولو نه زيات عقل لرونکے- (2)

---

[1] ... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1 ۔

[2] ... مواہب لدنیه، مقصد ثانی، فصل فی ذکر اسمائه...الخ، جلد:1، صفحه:366۔

حضرت وهب بن مُنبِّه رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: ما په (مخکښینو اسماني کتابونو او صحیفو کښې) په 71 کتابونو او صحیفو کښې دا خبره لوستلې ده (د کومې خلاصه چې ده): که چرې عقل یوه لویه صحرا وګڼلے شي نو په دغه صحرا کښې یوه وړه شان ذره ټولې دُنیا ته عطا کړے شوې ده، باقي ټول عقل رسولِ ذِیشان، مکي مدني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته عطا کړے شوے دے۔ (1)

عقلِ عالَم کی رسائی اُن کے رُتبے تک مُحال | ہاں! خُدا سے پوچھیے! شانِ حبیبِ کبریا (2)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عقل مندئ واقعه

راځئ چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کمال هوښیارتیا او د عقل مندئ یوه واقعه واورو۔ ډېره مشهوره واقعه ده، تاسو به مخکښې هم اورېدلې وي:

د نبوت د اِعلان نه مخکښې خبره ده، هُغه وخت د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عمر مبارک تقریباً 35 کاله وو۔ یو ځل د زور دار سیلابي باران په وجه د کعبې شریفې ودانئ ته سخت نقصان ورسېدو، نو د مکے والؤ د ودانئ مبارکې د بیا جوړولو اِراده اوکړه۔ ټولو قبیلو په دې ښه کار کښې ښه پوره برخه واخسته۔ محبوبِ ذِیشان، مکي مَدَني سُلطان صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ځپله هم په دې کښې شریک شو، ځپله به یې په مبارکو لاسونو باندې کاڼي راخستل

---

1...الشریعة للآجری، جلد:3، صفحه:15171516، رقم:1025۔

2...قبالهٔ بخشش، صفحه:62۔

او راوړل به يې- كله چې د خانه كعبې شريفې وداني د **حَجرِ اَسوَد** پورې ورسېدله نو يوه جګړه پيدا شوه-

ځكه چې مختلفو قبيلو په شريكه دا جوړوله، ظاهره ده چې كومې قبيلې حَجرِ اَسوَد لګولو نو د هغې نوم به كېدلو، د هغه قبيلې عزت به زياتېدو، ځكه هرې قبيلې غوښتله چې د **حَجرِ اَسوَد** د لګولو سعادت زمونږه نصيب شي-

بيا په هر ځائے كښې **زۀ، زۀ** شروع شول، يوې قبيلې وئيل چې حَجرِ اَسوَد به مونږه لګوو، بلې وئيل چې مونږ به يې لګوو- داسې خبره زياتېدله او سختې جګړې ته ورسېدله، د دې پورې چې خلقو د جنګ ژوبلې د پاره تورې راويستلې-

خير! په خپل مينځ كښې خبرې وشوې، ځينې مشران پكښې مينځ ته شول، د خبرو اترو په ذريعه اخر دا وټاكلے شوه چې سبا سحر چې كوم كَس ورومبے كعبې شريفې ته راشي، مونږ به هغه فيصله كوونكے منو، هغه چې څۀ وائي، د هغه خبره به اخري وي- دا تجويز د ټولو خوښ شو او ټولو د راتلونكې سحر اِنتظار شروع كړو-

د الله پاک شان وو چې په راتلونكې سحر د ټولو نه مخكښې چې كوم كَس كعبې شريفې ته تشريف راوړلو، هغه څوک بل څوک نۀ وو بلكې د ټول مخلوق مسيحا، د ټولو جهانونو د پاره رحمت يعنې زما او ستاسو خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وو- نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې يې وليدلو نو ټولو ووئيل:

## هٰذَا الْاَمِيْنُ قَدْ رَضِيْنَا بِمَا قَطٰى بَيْنَنَا

**ترجمه:** دا خو مُحَمَّد (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) دے، دے امين دے،

مونږ د دهٔ په فيصله باندې راضي يو۔

نو ټولو د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې عرض اوکړو چې زمونږ د جګړې فيصله تاسو اوکړئ! بيا زمونږ د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کمال عقل مندئ او بے مثاله هوښيارتوب ته وګورئ! رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: د هرې قبيلې نه يو يو سردار وټاکئ---!! نو يو يو سردار وټاکلے شو۔ بيا نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خپل څادر مبارک وغوړولو، حَجرِ اَسوَد ته يې د څادر مبارک د ښکلولو موقع عطا کړله (يعني حَجرِ اَسوَد د څادر مبارک د پاسه کېښودلے شو)۔ بيا يې ټولو سردارانو ته وفرمائيل: ټول په شريکه د څادر ګوټونه ونيسئ او کانړے اوچت کړئ! ټولو د څادر مبارک په ذريعه حَجرِ اَسوَد اوچت کړو او هغه ځائے ته يې يوړلو چرته چې حَجرِ اَسوَد لګول وو، د دې پورې چې نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خپلو لاسونو مبارکو باندې حَجرِ اَسوَد شريف اوچت کړو او د کعبې شريفې په ديوال کښې يې ولګولو۔ **(1)**

د دې بے مثاله حِکمت عملئ په ذريعه د عربو يو داسې جنګ ختم شو، د کوم په وجه چې به پته نهٔ لګي چې د څومره خلقو وينې توئيدلې او څومره ماشومان به يتيمانان کېدل۔

---

[1] ...طبقات ابن سعد، ذکر حضور رسول الله صلَّی اللہُ علیہِ وَآلِہٖ وَسلَّم...الخ، جلد:1، صفحه:116و 117 ملتقطاً۔

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اندازه ولګوئ چې څومره د کمال حکمت عملي ده، څومره د کمال هوښیارتیا ده، جګړه هم ختمه شوه، ټول سرداران هم رضا شول او ورسره ورسره کعبې شریفې او حَجرِ اَسوَد ته د خوږ محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مقدسو لاسونو برکتونه هم نصیب شول۔

کوئی کیا جانے کہ کیا ہو | عقلِ عالَم سے وَرَاء ہو
سب کی ہے تم تک رسائی | بارگہ تک تم رَسا ہو [1]

بد خُلق جو تھے وہ نیک ہوئے، لڑتے تھے ہمیشہ جو ایک ہوئے
تُونے جھگڑے سارے مِیٹ دیئے، تیری فَہم وذکا کا کیا کہنا!

## عقل مند هغه دے کوم چې جګړې ختمې کړي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سیرت په دې مبارکه واقعه باندې د دې اړخ نه هم لږ غور اوکړئ چې زمونږه خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو نه زیات عقل مند دے او نبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کمال عقل مندۍ او هوښیارتیا اظهار اوکړو او څهٔ یې اوکړل---؟ جګړه یې ختمه کړه۔ راویستلے شوې توري بیرته په تیکو کښې دننه شوې، هُغه خلق کوم چې د یو بل مرګ ژوبلې ته تیار ناست وو، په سکون او په ارام شول۔ معلومه شوه چې د عقل مندۍ دا نخښه ده چې عقل مند اِنسان جګړې نهٔ کوي بلکې جګړې ختموي۔

---

[1] ...حدائق بخشش، صفحه:341و342 ملتقطاً۔

افسوس چې اوس دلته کوم حالات روان دي جوړېږي، زۀ د ټولو خبره نۀ کووم، البته! زمونږه پۀ معاشره کښې داسې خلق دي چې پۀ ظاهره ډېر عقل مند پۀ نظر راځي، د کور، د خاندان مشران هم دي، ډېر عمر يې تېر کړے دے، تجربه يې هم شوې ده، د دې باوجود جګړه مار طبيعت والا وي ◈ پۀ وړه وړه خبره مرورېږي ◈ ښه ښکلے ماحول هيڅ بے هيڅه د جګړې والا جوړ کړي ◈ عِلمِ دِين يې نۀ وي حاصل کړے، ځکه پۀ ظاهره د عقل مند نظر راتللو باوجود پکښې پوهه نۀ وي ◈ چغلياني به کوي ◈ غيبتونه به کوي ◈ د نورو خلاف به غوږونه ډکوي او پۀ څۀ نا څۀ حرکت کولو به، يا به د کم عقل توب نه کار اخلي او جګړه به جوړوي يا شروع کړے شوې جګړه به زياتوي- دا ډېر غلط حرکت دے-

## جګړه مار بدترين دے

ياد ساتئ چې جګړه مار طبيعت والا اِنسان خراب او بد ترين کَس ګرځولے شوے دے- پۀ قرآنِ کريم کښې د منافقانو صفت بيان شو:

| | |
|---|---|
| وَهُوَ اَلَدُّ الْخِصَامِ ﴿۲۰۴﴾ (پاره:2، سورۀ بَقَرَه:204) | [مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: هغه د ټولو نه زيات جګړه کوونکے دے- |

معلومه شوه چې جګړه مار طبيعت کيدل د منافق نخښه ده- دغه شان پۀ يو ځائے کښې د غير مسلمو پۀ باره کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| بَلْ هُمْ قَوْمٌ خَصِمُوْنَ ﴿۵۸﴾ (پاره:25، سورۀ زُخْرُف:58) | [مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: بلکې هغوئ جګړه کوونکي خلق دي- |

اَللّٰہُ اَکْبَر! معلومه شوه چې جګړې مار کېدل د غير مسلمو صفت هم دے او د منافقانو طريقه هم ده۔

د مسلمانانو د خوږې مور جانې حضرت عائِشه صِدِّيقه طيبه طاهره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا نه روايت دے، د نبيانو سلطان، رحمتِ عالميان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي:

اِنَّ اَبْغَضَ الرِّجَالِ اِلَى اللهِ الْاَلَدُّ الخَصِمُ

ترجمه: بے شکه د الله پاک پۀ نزد د ټولو نه ناخوښه ګس هغه دے کوم چې ډېر جګړې مار وي۔ (1)

الله پاک دې معافي اوکړي، مونږ دې د داسې جوړېدو نه هم بچ کړي او څوک چې داسې دي، د هغوئي د شر نه دې مو هم بچ کړي۔ دا د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سيرت زمونږ د پاره دَرس دے که هر څۀ وشي، مونږ له پۀ خپل طبيعت کښې ◈ د روغې ◈ جوړې ◈ د جګړې ختمولو وغيره شاملول پکار دي۔ الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راکړي۔ اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## عقل مند کامياب دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! عقل مند کېدل ډېره د فضيلت خبره ده۔ پۀ حديثِ پاک کښې دي:

اَفْلَحَ مَنْ جَعَلَ اللّٰهُ لَهٗ عَقْلًا

---

[1] …بخاری، کتاب فی المظالم والغضب، باب قول الله تعالیٰ: وَهُوَ اَلَدُّ الْخِصَامِ، صفحه:633، حدیث:2457۔

ترجمه: د ټولو نه زيات کامياب دے هغه کَس څوک چې الله پاک عقل مند جوړ کړے دے۔ (1)

## د الله پاک زيات قُرب به چا ته مېلاوېږي---؟

په يو حديث شريف کښې فرمائي:

اِنَّمَا يَرْتَفِعُ النَّاسُ فِی الدَّرَجَاتِ وَيَنَالُوا الزُّلْفٰی مِنْ رَبِّهِمْ عَلٰی قَدْرِ عُقُوْلِهِمْ

ترجمه: بے شکه الله پاک به خلقو ته مختلفې درجې عطا کوي او ټول خلق به د الله پاک قُرب د خپل عقل مطابق حاصلوي۔ (2)

يعني څوک چې څومره عقل مند وي، هغه همره به د الله پاک د قُرب موندلو سعادت مومي۔

د صحابئ رسول حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُما نه روايت دے، فرمائي: بے شکه اِنسان ◈ نـمونځونه هم کوي ◈ زکوٰة هم ورکوي ◈ حج هم کوي ◈ عمره هم کوي (داسې نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نېکۍ يادولې، اخر يــې وفرمائيل:)

وَمَا يُجْزٰی يَوْمَ الْقِيَامَةِ اِلَّا بِقَدْرِ عَقْلِهٖ

ترجمه: د قيامت په ورځ بانديې به د دې ټولو نېکو بدله هم د بنده د عقل مطابق ورکړے کېږي۔ (3)

---

[1]...موسوعه ابن ابی الدنیا، کتاب العقل و فضله، جلد:6، صفحه:465، حديث:7۔

[2]...موسوعه ابن ابی الدنیا، کتاب العقل و فضله، جلد:6، صفحه:465، حديث:5۔

[3]...موسوعه ابن ابی الدنیا، کتاب العقل و فضله، جلد:6، صفحه:466465، حديث:8۔

اَللهُ اَکبَر! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! معلومه شوه چې یو ګس کوم چې عقل مند دے، بل هغه کوم چې عقل مند نۀ دے، یعنې کم عقل دے ◈ دواړه نـمونځونه هم کوي ◈ دواړه زکوٰة هم ورکوي ◈ دواړه روژې هم نیسي ◈ دواړه حجونه او عمرې هم ادا کوي خو د قیامت پۀ ورځ باندې به چې کوم ډیر عقل مند وي، هغه به د نیکو اَجر د خپلې عقل مندۍ پۀ وجه د ټولو نه زیات مومي او د کوم عقل چې کم وي، هغه ته به اَجر هم د بَل ګس پۀ نسبت سره کم میلاؤیږي۔ معلومه شوه چې د قیامت پۀ ورځ باندې به د کم یا زیات اَجر تعلق د عقل مندۍ او بے عقلۍ سره وي۔

## کله چې عقل پیدا کړے شو---؟

د حضرت ابو هریره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے، رسولِ ذِیشان، مکي مَدَني سُلطان صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: کله چې الله پاک عقل پیدا کړو نو ◈ دې ته یـې حُکم اوکړو: قُم (اے عقله!) ودریږه۔ عقل ودریدو ◈ بیا یـې وفرمائیل: اَدْبِرْ وروستو شه! عقل وروستو شو ◈ وه یـې فرمائیل: اَقْبِل راوړاندې شه---! عقل راوړاندې شو ◈ وه یـې فرمائیل: اُقعُد کښېنه۔ عقل کېناستو۔ بیا الله پاک وفرمائیل: اے عقله---!! ما ◈ ستا نه بهتر ◈ ستا نه زیات د عزت والا ◈ ستا نه د زیات فضیلت والا ◈ ستا نه زیات د حُسن او جمال والا هیڅ څیز نۀ دے پیدا کړے، زۀ ◈ به خلق راګیروم نو ستا پۀ ذریعه ◈ ورکړه به کووم نو ستا پۀ ذریعه ◈ عزت به ورکووم نو ستا پۀ ذریعه ◈ هم ستا پۀ ذریعه به زۀ پیژندلے کیږم ◈ هم ستا پۀ ذریعه به ثواب ورکړے کیږي او هم ستا پۀ ذریعه به عذاب وي۔(1)

---

[1]... موسوعه ابن ابي الدنیا، کتاب العقل و فضله، جلد:6، صفحه:466، حدیث:9۔

اَللّٰهُ اَکْبَر! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! خومره واضحه حديث شريف دے، معلومه شوه چې اِنسان کوم چې اَشرَفُ المَخلوقات (يعني د ټولو نه بهتر مخلوق) دے، د هغه سره د اصلي فضيلتونو معيار د هغه عقل دے ◈ هم عقل د عزت والا ◈ هم عقل بهتر ◈ هم عقل د فضيلت والا ◈ هم عقل د حُسن او جمال ذريعه ده ◈ اِنسان ته چې څۀ ميلاؤيږي، هغه هم د عقل په ذريعه ميلاؤيږي ◈ عزت هم د عقل په وجه ميلاؤيږي ◈ اوچتې مرتبې هم د عقل په ذريعه ميلاؤيږي او د قيامت په ورځ باندې به زيات اَجر هم د عقل په ذريعه عطا کولے شي۔

## دا عقل نۀ بلکې بے عقلي ده

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! وګورئ چې عقل خومره اعلیٰ څيز دے--!! کيدے شي چې په ذِهن کښې سوال راځي چې داسې څنګه کيدے شي؟ ◈ مونږ خو ليدلي دي چې په عقل پسې تلونکے د دِين نه هم بيزاره کيږي ◈ څوک چې هره خبره په عقل باندې تلي، هغه خو د عشق او محبت، اِيمان او يقين او اطاعت او فرمانبرداری نه هم ووځي ◈ هم عقل پرست خلق دي کوم چې مَعَاذَالله! د الله پاک د وجود نه هم اِنکار کوي ◈ هم عقل پرست خلق دي کوم چې د نـمونځ په اهميت باندې نۀ پوهيږي ◈ هم عقل پرست خلق دي کوم چې مَعَاذَالله! په قرآن او حديث باندې ګډه وډه تنقيدونه کوي ◈ هم عقل پرست خلق دي کوم چې معجزې په عقل باندې تلي او د هغې نه اِنکار کوي۔ نو دا څنګه کيدے شي چې عقل دومره د فضيلت والا دے---؟ د فضيلت معيار خو اِيمان دے، د فضيلت معيار خو دِين دے، تقویٰ ده۔

دا سوال کيدے شي ذهنونو ته راځي۔ جواب واورئ! په اصل کښې چې عقل دے کنه،

دا د دِين نه بېزاره نۀ وي ◈ د دِين نه بېزاره کېدل ◈ د الله پاک نه اِنکاري کېدل ◈ د حديثونو نه اِنکار کول ◈ د دِين پۀ حُکمونو او مسئلو باندې ګډ وډ تنقيدونه کول پۀ اصل کښې عقل نۀ بلکې بے عقلي ده- آؤ جي! عقل چې کوم دے، دا دِين مني- زۀ تاسو ته يو روايت بيانووم-

## د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام اِنتخاب

اِمام اِبنِ اَبِي الدُّنيا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه روايت ليکلے دے، فرمائي: کله چې الله پاک حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام زمکې ته راکوز کړو نو حضرت جبرائيل امين عَلَيْهِ السَّلَام د هغوئي خوا له درې څيزونه راوړل او حاضر شو: (1): دِين (2):عقل او (3): ښه اَخلاق-

عرض يې اوکړو: اے آدمه عَلَيْهِ السَّلَام! الله پاک فرمائي: پۀ دې درېو واړو څيزونو کښې يو خوښ کړئ! حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام وفرمائيل: اے جبرائيله! پۀ دې درېو واړو کښې دا يو څيز داسې دے کوم چې پۀ جَنَّت کښې ما د ټولو نه پۀ ښائسته او ښکلي شکل کښې ليدلے وو- د دې وئيلو سره يې د عقل طرف ته لاس وغزولو او هغه يې سينې ته راجُخت کړو-

وګورئ چې درې څيزونه وو: (1): دِين (2):عقل او (3): ښه اَخلاق- عقل حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام خوښ کړو- باقي دواړو ته حُکم وشو: تاسو دواړه د اسمانونو طرف ته اوچت شئ---!!

اوس چې مخکښې کومه خبره ده هغه پۀ توجه سره واورئ! دِين او ښه اخلاقو ووئيل: مونږ خو چرته هم نۀ ځو- حُکم وشو: آيا زما نافرماني کوئ؟ دواړو عرض اوکړو: نا---!! مونږه نافرماني نۀ کوو بلکې مونږ له حکم راکړے شوے دے چې مونږ به هميشه د

عقل سره يو، چرته چې عقل وي، هلته به مونږ يو- بس د عقل د خوښولو پهٔ وجه درې واړه څيزونه (1): دِين (2):عقل او (3): ښه اَخلاق حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام له راغلل- (1)

سُبۡحٰنَ الله! معلومه شوه چې چرته عقل وي، هلته دِين هم لازمي وي، چرته چې عقل وي، هلته به ښه اخلاق هم لازمي وي- چرته چې دِين نهٔ وي بلکې د دِين نه بېزاري وي نو پوهه شئ چې هلته عقل هم موجود نهٔ دے-

## د بے عقلۍ ځينې مثالونه

◈ تاسو وګورئ چې ابو جهل بد بخته وو، هغه پهٔ خپلو سترګو باندې سپوږمۍ دوه ټوټې کېدل هم وليدل، ونې يـې هم پهٔ ګرځېدو وليدلې، کاڼي يـې هم پهٔ کلمه لوستلو وليدل، پهٔ خپلو سترګو باندې يـې ډېرې معجزې وليدلې خو صِرف د حَسَد او د سوزېدو پهٔ وجه يـې اِيمان قبول نهٔ کړو- فرق ته وګورئ: که چرې هغهٔ کلمه وئيلے وے نو نن به مونږ ټولو د هغه نوم پهٔ اَدب سره اخستو، که چرې هغهٔ کلمه وئيلے وے نو د هغه د نوم سره به هم د دُعا الفاظ لګېدل، که چرې هغهٔ کلمه وئيلے وے نو لکه څنګه چې حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د سردارانو سردار شو، دے به هم شوے وے خو هغهٔ څومره بے وقوفي اوکړه، پهٔ خپل ځان کښې دننه يـې حَسَد او سوزېدل سمبال نهٔ کړے شو، ذليله شو، رسوا شو، مړ شو او د دوزخ حقدار شو- هغه پهٔ کلمه نهٔ وئيلو سره عقل مندي اوکړه او که بے وقوفي يـې اوکړه---؟ يقيناً چې هغه بے وقوفي اوکړه، ډېر واضحه څيزونه يـې پهٔ سترګو باندې وليدل او پهٔ غوږنو باندې يـې واورېدل خو بيا پرې هم پوهه نهٔ شو ◈ يو صحابي

---

1 …موسوعه ابن ابي الدنيا، کتاب العقل و فضله، جلد:6، صفحه:470، حديث:21۔

رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ یو ځل دربار رسالت ته حاضر شو، وه یې وئیل: یا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! د اِسلام قبلولو نه مخکښې زمونږه حالت دا وو چې ◈ کوم کاڼے به راته ښۀ ښکاره کېدل، هغه به مو خپل معبود جوړولو ◈ پۀ سفر به روان شو، پۀ لاره کښې به د مخکښيني نه ښکلے کاڼے مېلاؤ شو نو مخکښینے به مو وغورځولو او نوے معبود به مو جوړ کړو ◈ که چرې څۀ کاڼے به مېلاؤ نۀ شو نو خاوره یا شګه به مو راجمع کړله، پۀ هغې باندې به مو د چېلۍ پۍ واچول او د هٔغه **راجمع کړے شوې خاورې ډېرے** به مو خپل معبود ګڼلو او د هغه طواف به مو شروع کړو۔ (1)

تاسو ووایئ چې د غیر مسلمو دا کوم انداز وو یا دے، دا عقل مندي ده که بے وقوفي ده---؟ یقیناً چې بے وقوفي ده۔

◈ دغه شان دومره لوئي کائنات دے ◈ اسمان بغیر د ستنو نه ولاړ دے ◈ زمکه د خپلو ډېرو اعلیٰ خاصیتونو سره زمونږ د ښپو د لاندې ده ◈ ډېر اعلیٰ، ډېر حکیمانه نظام دے ◈ نمر د زمکې نه پۀ یو خاص فاصله باندې دے ◈ سپوږمۍ پۀ یو خاص فاصله باندې ده ◈ هم د ډېر ښکلي نظام سره بخارات الوځي، وریځې ترینه نه جوړېږي، سېلۍ لګي، باران کېږي ◈ د وچې خاورې دننه پټ تخم اوبه کېږي ◈ هٔغه زمکه کومه چې پۀ کوداله باندې کنستلے کېږي نو ډېر زور غواړي، د هٔغې زمکې سینه شلوي او یو ووړوکے شان، نرم شان تیغے راوځي، ډېر پۀ بے مثاله طریقه باندې ترې بوټے جوړېږي، بیا د هٔغه تخم د دننه نه یوه غټه شان ونه راوځي، هغه میوه هم کوي ◈ روزانه پۀ ټاکلے شوي وخت

---

[1]...حلیة الاولیا، رقم:195، ابو رجاء العطاردی، جلد:2، صفحه:347، رقم: 2508و2509 خلاصةً۔

باندې نمر راخېژي، په تاکلے شوي وخت باندې پرېوځي ◈ تاسو وګورئ چې د ژوند د تېرولو د پاره هُغه کوم يو سهولت او کوم يو ضرورت دے کوم چې په زمکه باندې موجود نۀ دے---؟

دې ټول نظام ته چې يو ګس وګوري او ووائي **دا هر څۀ پخپله جوړ شوي دي** دا چا هم نۀ دي جوړ کړي؟ نو ووايئ چې تاسو به داسې ګس ته عقل مند وايئ---؟ دا چرته عقل مند دے ◈ کوم چې دا خو مني چې يو وړوکے شان ګلاس پخپله نشي جوړېدے ◈ يو وړوکے شان بال پخپله نشي جوړېدے ◈ اِنسان پخپله نشي پيدا کېدے ◈ اِنسان د عقل او شعور باوجود خپل ځان نشي پيدا کولے، دا هر څۀ مني خو وائي: دا دومره لوئي کائنات هم پخپله جوړ شو، د دې د جوړولو والا څوک هم نشته- آيا دا عقل مندي ده---؟ نا---! نا! دا خو د اخري حد بے وقوفي ده-

## رېشنل اِزَم يا جديد بے عقلي

خو افسوس چې نن دغه بے عقلۍ او بے وقوفۍ ته **رېشنل اِزم (د عقل پرستۍ نظريه)** وئيلے کېږي- اَستَغفِرُالله! تش په نوم په دې عقل مندو باندې څۀ شوي دي---؟ دا درته معلومه ده چې رېشنل اِزم والا، هَيومَن اِزم والا څۀ وائي؟ دوئي مني چې اِنسان او خَر يو شان دي، خَر هم دُنيا ته راغلو، خوراک څښاک، اودۀ کېږي، ګرځي راګرځي، مزې کوي، اِنسان هم دغه شان دے، د دۀ دُنيا ته د راتللو څۀ جدا لوئي مقصد نۀ نشته ، دا هم بس د خوراک، څښاک، اودۀ کېدو او د مزو کولو د پاره راغلے دے-

لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِالله! دا رېشنل اِزم (عقل پرستي) ده يا بے وقوفي ده---؟ خېر! کومه چې

بې دِيني ده، دا پۀ يو شان هم عقل مندي کېدے نۀ شي ◈ عقل تقاضا کوي چې څوک پۀ مونږ باندې اِحسان اوکړي، د هغه شُکر ضرور ادا کول پکار دي ◈ عقل تقاضا کوي چې چا مونږ جوړ کړو، مونږ له يې د استوګنې اسباب پۀ دې کائنات کښې کېښودل، کوم چې زمونږ پالنه کوي، کوم چې بې مثاله او کمالي نِعمتونه راعطا کړي دي، هغه د دې خبرې حقدار دے چې د هغه شُکر ادا کړے شي ◈ عقل تقاضا کوي چې څوک زمونږ خالق دے، د هغه تابعداري دې اوکړے شي ◈ عقل تقاضا کوي چې اِنسان چې لکه څنګه شعور لرونکے مخلوق بې فائدې او فضول نۀ وي د هغه پۀ وړاندې دې يو لوئې مقصد وي، کوم چې دا پوره کړي ◈ عقل تقاضا کوي چې دا دُنيا کومه چې مونږ ته ډېره زر پرېښودل دي، د دې سره دې زړۀ وه نۀ لګولے شي۔

دا ټولې د عقل تقاضې دي۔ خومره بې عقله به وي هُغه کَس کوم چې د عقل پۀ دې ډېرو بنيادي تقاضو باندې هم پوهه نۀ شي۔ د دې ټول تفصيل نه معلومه شوه چې ◈ بې دِينه کېدل هيڅکله هم عقل مندي کېدے نۀ شي۔ دِين د عقل سره دے او عقل د دِين سره دے۔ هُغه کوم چې دِين نۀ مني، اللّٰه پاک پۀ قرآنِ کريم کښې د هغوئې پۀ باره کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| اُولٰٓىٕكَ كَالْاَنْعَامِ بَلْ هُمْ اَضَلُّ ؕ (پاره:9، سورۀ اَعْرَاف:179) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: دا خلق د څناورو پۀ شان دي بلکې د هغوئې نه هُم زيات ګمراه شوي۔ |

# د عقل مند اِنسان 2 نخښې

بهر حال! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د حضرت آدم عَلَیۡہِ السَّلَام والا روايت نه معلومه شوه چې د عقل مند اِنسان دوه نخښې دي: (1): عقل مند بنده دِيندار هم وي (2): او د ښو اخلاقو نمونه هم وي۔

د عقل فضيلتونه خو ګڼکښې مونږه اورېدلې دي۔ لهذا د عقل مند جوړېدو د پاره پکار دي چې مونږه دِينداره هم جوړ شو، د الله او د رسول صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانبرداري هم اوکړو او ورسره ورسره ښه اخلاق هم اِختيار کړو۔ الله پاک دې مونږ له په دې باندې د عمل کولو توفيق راکړي۔ اٰمِيۡن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

راځئ چې د قرآنِ کريم په رڼا کښې د عقل مند اِنسان يو څو نورې نخښې واورو:

## (1): نصيحت قبلول

الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَمَا يَذَّكَّرُ اِلَّاۤ اُولُوا الۡاَلۡبَابِ ﴿۲۶۹﴾ (پاره:3، سورۂ بَقَرَه:269) | [مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: او هُم عقل لرونکي نصيحت مني۔ |

معلومه شوه چې عقل مند اِنسان نصيحت قبلوونکے وي۔ (1)

واقعي چې رښتيا خبره ده، په ساده شان مثال سره عرض کوم، فرض کړئ چې په سکول يا مدرسه وغيره کښې دوه طالبِ عِلمان دي، اُستاذ دواړو ته نصيحت کوي، دواړو

[1] ...تفسير نسفی، پاره:3، سورۂ بَقَرَه، زيرِ آيت:269، جلد:1، صفحه:221۔

ته پۀ سبق باندې د توجه کولو وائي، د فضولياتو نه د بچ کېدو، پۀ وخت باندې د ارام کولو، پۀ وخت باندې د راپاڅېدو، پۀ وخت باندې د لوستلو، پۀ وخت باندې سکول ته د راتللو نصيحت کوي- بيا پۀ دې دواړو کښې ◈ يو طالبِ عِلم د اُستاذ نصيحت مني، خپلو سبقونو ته توجه کوي، د فضولياتو نه ځان ساتي، پۀ لوبو ټوقو او د خرابو دوستانو پۀ صحبت کښې خپل وخت نۀ ضائع کوي ◈ دوېم طالبِ عِلم نصيحت نۀ قبلوي، سبقونو ته هم خيال نۀ کوي، وخت هم ضائع کوي، پۀ فضولياتو کښې اخته وي- ووايئ چې پۀ اخره کښې به کامياب څوک وي؟ يقيناً چې نصيحت قبلوونکے به پۀ اِمتحان کښې کاميابېږي- لهذا پۀ دې دواړو کښې عقل مند څوک دے؟ چا چې نصيحت قبول کړو، چا چې نصيحت وه نۀ منلو، هغه عقل مند نۀ دے بلکې بې وقوفه دے- **معلومه شوه چې نصيحت قبلول د عقل مندو خلقو نخښه ده-**

## نصيحت منونکي جوړ شئ!

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** مونږ له هم پکار دي چې د عقل مند جوړېدو د پاره نصيحت قبول کړو- که خبره حق وي نو مونږ له منل پکار دي-

دلته داسې ماحول هم پۀ معاشره کښې عام مونډلے کېږي چې خلق د نورو عمر ته پۀ کتلو، ظاهري شکل ته پۀ کتلو، د اسټيټس (***Status***) پۀ ليدو نصيحت قبلوي ◈ که کشر مونږ پوهه کوي نو مونږ منلو ته نۀ تيارېږو بلکې وايو: پرونے ماشوم به اوس ما پوهه کوي---؟ ◈ که د ساده شان جامو والا مونږه پوهه کوي نو پۀ خبره باندې نۀ پوهېږو، د بل اړخ نه جواب مېلاؤېږي: خپل حالت ته خو وګوره! اسټيټس [يعني حيثيت] ته خو وګوره!

ستا په شان اِنسان به اوس ما پوهه کوي---؟

پۀ داسې قِسمه خبرو کولو مونږ د حق خبرې نه لرې کېږو- دا اُصول پۀ ذِهن کښې کښېنوئ! کومه خبره چې حق ده، پۀ هغې پسې مونږ له تلل پکار دي-

## شيطان وظيفه وښودله

پۀ بُخاري شريف کښې حديثِ پاک دے، حضرت اَبُو هريره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: د رَمَضَانُ المُبَارَک مياشت وه، سرسايه[صدقه فطر] راجمع شوے وو، د غلې يو پوره ډېرے جوړ شوےوو، رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما ذمه واري ولګوله چې اے ابو هريره! د دې غلې د ډيرې حفاظت به ته کوې-

فرمائي: شپه شوه، ما د غلې حفاظت کولو، پۀ دې کښې يو ګس راغلو، هغه د غلې نه څۀ څيزونه اوچت کړل، څنګه چې هغه اوچتول، ما هغه راونيولو، بيا هغه پۀ عاجزی سره منت زاري شروع کړل، وه يې وئيل:

اِنِّي مُحْتَاجٌ، وَعَلَيَّ عِيَالٌ وَّلِي حَاجَةٌ شَدِيدَةٌ

ترجمه: اے ابو هريره! زۀ محتاجه يم، زما بچي دي، ما ته د دې غلې ډېر حاجت دے-

فرمائي: زما پرې ترس راغلو او ما هغه پرېښودو- چې سحر شو، خوږ آقا و مولاؐ، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل:

يَا اَبَا هُرَيْرَةَ، مَا فَعَلَ اَسِيْرُكَ الْبَارِحَةَ

يعني اے ابو هريره! د شپې ستا د قيدي څۀ وشول---؟ عرض مې اوکړو: حُضُور! هغه ډېر منتونه اوکړل، زما پرې ترس راغلو- وه يې فرمائيل:

اَمَا اِنَّهُ قَدْ كَذَبَكَ، وَسَيَعُوْدُ

يعنې ابو هريره! هغه دروغ ووئيل--!! هغه به بيا راځي-

سُبْحٰنَ الله! څومره د کمال عِلم دے: ◈ دا ورته هم معلومه ده چې د شپې غل راغلے وو ◈ دا ورته هم معلومه ده چې هغه څوک وو ◈ حضرت ابو هريره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د هغه سره خبرې کولې، د هغه په دروغو باندې پوهه نۀ شو، خوږ محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خپل کور مبارک کښې وو، هغوئې ليدلے هم نۀ وو، خبرې يـې ورسره هم نۀ وې کړې، د مخ تاثرات يـې هم نۀ وې ليدلې، بيا هم ورته معلومه ده چې هغه دروغ ووئيل، دا د ماضي [تېر وخت] عِلم وو ◈ هغه به بيا هم راځي، دا ورته هم معلومه ده، دا د مستقبل عِلم دے-

| | |
|---|---|
| جو ہو چکا ہے جو ہوگا حُضور جانتے ہیں | تیری عَطا سے خُدایا حُضور جانتے ہیں |
| خُدا کو دیکھا نہیں اور ایک مان لیا | کہ جانتے تھے صحابہ حُضور جانتے ہیں |

خیر! حضرت ابو هريره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائې: په بله شپه بيا هُغه غل راغلو، بيا هغه غله اوچته کړه، ما هغه ونيولو- نن بيا هغه منتونه شروع کړل، زما پرې بيا ترس راغلو- چې سحر شو نو محبوبِ ذِيشان صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل:

يَا اَبَا هُرَيْرَةَ، مَا فَعَلَ اَسِيرُكَ

يعنې اے ابو هريره! ستا د قيدي څۀ وشول--؟ عرض مې اوکړو: حُضُور! په دې ځل پرې هم زما ترس راغلو، ما پرېښودو- وه يـې فرمائيل:

اَمَا اِنَّهُ قَدْ كَذَبَكَ، وَسَيَعُوْدُ

يعنې هغه دروغ ووئيل، هغه به بيا راځي-

فرمائي: ما ته پۀ يقين سره معلومه وه چې هغه به راځي، نو پۀ درېمه شپه زۀ تيار کښيناستم ، څنګه چې هٔغه غل راغلو، ما هغه ونيولو- وه مې وئيل: نن خو به زۀ تا نۀ پرېږدم، دربار رسالت ته به دې پيش کووم-

پۀ دې ځل هٔغه غل ووئيل: اے ابو هريره! که چرې تۀ ما پرېږدې نو زۀ به تا ته د فائدې يوه خبره اوکړم- ما ووئيل: وروايه! وه يـې وئيل: کله چې د شپې پۀ بستره باندې څملې نو آيتُ الکُرسي لوله! الله پاک به ستا حفاظت کوي او د سحره پورې به شيطان ستا نه لرې ساتي-

فرمائي: د هغه دا خبره چې مې واورېدله نو نن هم ما هغه پرېښودو- چې سحر شو نو دربار رسالت ته حاضر شوم، وه يـې فرمائيل: ابو هريره! د قيدي څۀ وشول---؟ عرض مې اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! هغه ما ته پۀ داسې داسې کولو يوه وظيفه وښودله، ځکه ما هغه پرېښودو- نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل:

اَمَا اِنَّهٗ قَدْ صَدَقَكَ وَهُوَ كَذُوْبٌ

يعنې اے ابو هريره! هغه خو دے د دروغژنو سردار خو تا ته يـې رښتيا ووئيل-

اے ابو هريره! معلومه دې درته چې هغه څوک وو؟ عرض مې اوکړو: ما ته معلومه نۀ ده- وه يـې فرمائيل: ذَاكَ شَيْطَانٌ يعنې هغه شيطان لَعِين وو- (1)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** وګورئ چې خبره رښتيا وه، کړې وه شيطان- هغه ومنلے

---

[1]... بخاری، کتاب الوکالة، باب اذا وکل رجلا فترک الوکیل شیئا فاجازه...الخ، صفحه:596، حدیث:2311۔

شوه- معلومه شوه چې خبره رښتيا وي، که کوونکے هر څوک هم وي، مونږ له منل پکار دي- د مثال په توګه ◈ زمونږه څوي مونږ له د نـمونځ دعوت راکړي، آيا هغه منل نه دي پکار؟ منل پکار دي ◈ د 10، 15 کالو ماشوم مونږ له د نېکۍ دعوت راکړي، خبره صحيح هم وي نو منل پکار دي! ◈ که زمونږ نه کشر مونږ ته شرعي مسئله بيان کړي، صحيح يې هم بيان کړي نو منل پکار دي! ◈ په کورونو کښې بعضې وخت واړه نا پوهه ماشومان څه ووائي، د زدکړې خبره وي، ماشومان وي کنه، په زړه صادق وي، هغوئي د کولو د پاره ووائي- د مثال په توګه مونږ ماشوم پوهه کړو چې څويه دروغ به نه وائې- لږ ساعت پس مونږ پخپله دروغ ووئيل- ماشوم خو ماشوم دے، هغه چې ووينې نو وائي به: بابا جانه! تاسو پخپله دروغ وايئ---؟ په دې باندې ماشوم مه رټئ، بانه مه کوئ چې څويه! ما دې د پاره دروغ ووئيل چې فلانکے حِکمت مې پکښې ليدلو- نا---!! داسې مه کوئ- د ماشوم به غلط تربيت وشي- هغه ستاسو پام راګرځوي چې تاسو دروغ وئيلي دي- بيا يې ومنئ! غرض! که خبره رښتيا وي، که د هر چا د خُلې نه هم ووځي نو منل پکار دي!

**نوټ**:دلته يوه خبره عرض کووم ،هغه بد خلق کوم چې معاذالله !ګستاخ رسول وي،ګستاخ صحابه او اوليا وي،د هغوي خبره هيڅکله صحيح نهٔ وي ،د هغوي خبره اوريدل خو لرې خبره ده د هغوي سره د کښيناستلو نه هم قران کريم منع فرمائيله ده،لهذا د داسې ګستاخانو خبره هرګز نهٔ ده اوريدل پکار،او نهٔ جائز دي.

## آيا ستا په شان اِنسان به اوس ما پوهه کوي---؟

صحابئ رسول حضرت عبدُ الله بن مسعود رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: د الله پاک په نزد په لوئي

ګناهونو کښې يوه دا هم ده چې کله چا ته ووئيلے شي چې د الله پاک نه وېرېږه! نو هغه ورته ووائي: ته خپل فِکر کوه---!! آيا ستا په شان اِنسان به ما ته حُکم کوي؟ (1)

الله! الله! اندازه ولګوئ چې دا څومره سخت جُرم دے- دلته خو داسې خبرې عامې دي- الله پاک دې مونږه د داسې بے وقوفو نه محفوظ ساتي- کاش چې مونږ نصيحت قبلوونکي جوړ شو- اٰمِيۡن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## (2): ذِکر، فکر او د ايمان مضبوطوالے

د عقل مندو نورې نخښې څۀ دي؟ الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| اَلَّذِيۡنَ يَذۡكُرُوۡنَ اللّٰهَ قِيٰمًا وَّ قُعُوۡدًا وَّ عَلٰى جُنُوۡبِهِمۡ وَيَتَفَكَّرُوۡنَ فِىۡ خَلۡقِ السَّمٰوٰتِ وَ الۡاَرۡضِ‌ۚ رَبَّنَا مَا خَلَقۡتَ هٰذَا بَاطِلًا ‌ۚ سُبۡحٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿۱۹۱﴾ (پاره:4، سورۂ آلِ عِمْرَان:191) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: کوم خلق چې په ولاړه او په ناسته او په ډډه ملاسته الله يادوي او د اسمانونو او زمکې په پيدائش کښې غور کوي، اے زمونږه رَبه! تا دا تول بېکاره نۀ دي جوړ کړي- ته پاک يې، ته مونږه د دوزخ د عذاب نه بچ کړې- |

سُبۡحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! دا د عقل مندو نخښې دي: (1): عقل مند خلق په ولاړه، په ناسته او په بسترو باندې په ملاسته په هر حال کښې د الله پاک ذِکر کوي- د مولیٰ کريم ياد هر وخت د هغوئي په زړونو باندې راخور وي (2): عقل مند خلق په کائنات

---

[1]... معجم کبير، من اسمه عبد الله، جلد:4، صفحه:469، حديث:8508-

کښې غور او فِکر کوي، د اسمانونو او زمکې په پیدائش او د کائنات په نورو عجائیباتو باندې غور کوي او د هغوئې مقصد د الله پاک د عظمت او قدرت زیات نهٔ زیات عِلم حاصلول دي (3): په کائنات کښې د غور او فِکر نه پس د الله پاک عظمت په هغوئې باندې ظاهرېږي او د هغوئې زړونه د الله پاک د عظمت په وړاندې ټيټېږي او د هغوئې ژبې د الله پاک د عظمت تراني وائي (4): د الله پاک په بارګاه کښې د دوزخ د عذاب نه پناه غواړي۔[1]

## د ذِکرُ الله عادت جوړ کړئ!

سُبْحٰنَ الله! خومره ښکلې ښکلې نخښې دي۔ عقل مند هغه وي کوم چې د الله پاک ذِکر کوي۔ حضرت سري سقطي رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَیۡه فرمائي: ما د حضرت جُرجَاني رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَیۡه سره سَتوان وليدل، هغوئې به د ستوانو په خوړلو لوږه ختموله۔ ما ووئيل: تاسو ډوډۍ او نور څیزونه ولې نهٔ خورئ؟ وه يې فرمائيل: ما (مثلاً د ډوډۍ په نمړۍ) چقولو او په دې ستوانو باندې په ګزاره کولو کښې د 90 تسبيحاتو فرق موندلے دے (یعني اِنسان چې د ډوډۍ نمړۍ خُلې ته کړي، هغه چقوي نو په دې باندې چې خومره وخت لګي، په دومره کښې اِنسان 90 کرته سُبْحٰنَ الله! وئيلے شي) ځکه د 40 کالو نه ما ډوډۍ نهٔ ده خوړلې ،د پاره د دې چې د شخوند وهلو وخت بچت کړم او په تسبيح کولو کښې يې تېر کړم۔[2]

---

[1]…تفسیر مظهری، پاره:4، سورۂ آل عمران، زیر آیت:191، جلد:1، صفحه:603 خلاصةً۔

[2]…مکاشفة القلوب، باب فی طاعة الله و محبته و محبة رسوله صلَّی اللهُ علیهِ وَ آلِهٖ وَسلَّم، صفحه:49۔

الله! الله--! څنګه شوق دے، څنګه ښکلے او ځانګړے سوچ دے- دلته خو ◈ ریلز کتلے کیږي ◈ پۀ سوشل میډیا باندې هسې پۀ سکرولنګ کولو کولو ◈ د دوستانو سره پۀ ګپونو لګولو ګېنټې تېرولے کیږي، د وخت هډو اِحساس نۀ وي، دا د الله والا کوم چې پۀ حقیقت کښې عقل مند دي، هغوئي ته وګورئ چې د وخت ورسره څومره اِحساس دے، 40 کاله--!! ډېره موده ده، حضرت جرجاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د 40 کالو پورې ډوډۍ وه نۀ خوړله د پاره د دې چې د شخوند وهلو وخت بچت کړي او تسبیح پکښې اووائي -

سُبْحٰنَ الله! الله پاک دې زمونږه هم د وخت قدر نصیب کړي، کاش چې مونږ هم د الله پاک ډېر ذِکر کوونکي جوړ شو- اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

ذکر و درود ہر گھڑی وِردِ زباں رہے | میری فضول گوئی کی عادت نکال دو (1)

## د غور او فِکر عادت جوړ کړئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د عقل مند بنده یوه نخښه بیان شوه چې څوک عقل مند وي هغه به د الله پاک پۀ مخلوقاتو کښې غور او فکر کولو والا وي ،دا څیز زمونږ نه روان دے ختمیږي ،د نمونځ،روژې، حج او نورو عباداتو پۀ باره کښې خو دلته خبره کیږي ،چرت نه چرته ،پۀ څۀ نه څۀ طریقه نیکۍ کیږي اګرکه د هغوي شمیره کمه ده !خو بیا هم یو تعداد شته خو دا چې کوم عبادت دے یعني غور و فکر کولو والا نیکي ،د دې طرفته عموما توجه نۀ کیږي  حالانکه دا ډیر لوئے عبادت دے .صحابي رسول ،حضرت ابو دردا رضي الله

---

[1]... وسائلِ بخشش، صفحه:305۔

عنهما فرمائي: (د الله پاک پهٔ مخلوقاتو کښې )يو ساعت غور و فکر کول د ټولې شپې (نفلې) عبادت نه بهتر دے. (1)

## اوږد فکر جنت ته بوتلل کوي

د حضرت لُقمانِ حکیم رَحْمَةُاللهِعَلَيْه عادت مبارک وو چې پهٔ تنهايۍ کښې به يــې ډېر وخت تېرولو، يو ځل يو ګس د هغوئي پهٔ خوا باندې تېرېدلو نو پوښتنه يــې ترې اوکړه: اے لقمانه! تهٔ د دومره وخته پورې يواځې ناست يــې که د خلقو سره کښېنې نو لږ زړهٔ به دې ولګي- لقمانِ حکیم رَحْمَةُاللهِعَلَيْه وفرمائيل: د ډېر وخته پورې د يواځې کېناستو سره پوهه پيدا کيږي او اوږد فِکر د جَنَّت د لارې راهنمائي کوي-(2)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږ له هم د غور او فِکر عادت جوړول پکار دي- غور او فِکر هم باقاعده يو فَن دے، دا زده کول غواړي، هر کس غور او فِکر نهٔ شي کولے- احياء العلوم د اِمامِ غزالي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه ډېر ښکلے کتاب دے، د دې پهٔ پينځم جلد کښې د غور او فِکر يو پوره باب دے، اَلْحَمْدُلِله! د احياء العلوم اُردو ترجمه مکـتبة الـمدينه چاپ کړې ده، د پينځم جلد نه د غور او فِکر باب ولولئ! د هغې نه به درته د غور او فِکر آداب، د هغې طريقې او د هغې احتياطونه د زدکړې دپاره ميلاؤ شي- مونږه له دا فن زده کول پکار دي او د خپلې زندګۍ حصه يې جوړول پکار دي- الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راکړي- اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

1...الزہد لامام احمد بن حنبل، زہد ابی الدرداء رَضِیَ اللهُ عنه، صفحه:179، رقم:747-

2...مکاشفة القلوب، باب فی التفکر فی الایام وغیرہا، صفحه:239-

# د عقل مند اِنسان روټين

پۀ اخره کښې يو روايت واورئ! حضرت وَهب بن مُنَبِّه رَضِیَ اللہُ عنہ فرمائي: د عقل مند اِنسان پۀ روټين کښې 4 وختونه پکار دي: (1): هُغه وخت پۀ کوم کښې چې هغه د الله پاک سره مناجات کوي (2): هُغه وخت کله چې هغه خپل جاج اخلي (3): هُغه وخت کله چې هغه د عِلم والؤ پۀ خِدمت کښې حاضريږي او د دِين او د دُنيا پۀ باره کښې زده کوي (4): هُغه وخت کله چې هغه د حلالو خوندونو نه فائده اخلي۔[1]

دا ډيرې ښکلې خبرې دي۔ پۀ خپل امروزه ژوند کښې دا څلور وختونه لازمي وساتئ! ◈ يو د تنهايۍ وخت چې کله تاسو د خپل رَبّ پۀ حضور کښې حاضريږئ ◈ يو خاص وخت کله چې تاسو خپله جائزه اخلئ ◈ هُغه خاص وخت کله چې تاسو عِلمِ دِين زده کوئ، پۀ ښه صحبت کښې کښېنئ او ◈ يو وخت صرف او صرف د ځان د پاره ساتئ، چې تاسو پکښې د حلالو څيزونو نه فائده اخلئ۔ د دې څلورو وختونو نه پس چې کوم وخت پاتې شي، هغه پۀ خپلو نورو جائزو معاملو کښې ولګوئ۔ الله پاک دې مونږ له پۀ دې ترتيب سره د خپل روټين ټيک کولو توفيق راکړي۔ اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د دعوتِ اِسلامي د يوې شعبې تعارف: نيک اَعمال

اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! دعوتِ اِسلامي د اُمت د خير ښېګړې او د نيکو ترغيب ورکوونکے دِيني تنظيم دے، دعوتِ اِسلامي د مختلفو شعبو پۀ ذريعه د اُمت د خير ښېګړې کارونه کوي،

---

1... موسوعه ابن ابی الدنیا، کتاب العقل و فضله، جلد:6، صفحه:470و 471، حدیث:24 خلاصةً۔

پهٔ دغه شعبو کښې يوه **شعبه نيک اَعمال** هم ده- د دې شعبې پهٔ ذريعه د خپلو اَعمالو د جائزې اخستو، د مختلفو نيکو اعمالو مثلاً ◈ د روژې د نيولو ◈ د فضول کارونو نه د بچ کېدو او د خاموشه اوسېدو ◈ سترګې د ګناهونو نه پهٔ بچ کولو د ښکته ساتلو وغيره ذِهن ورکولے شي-

اوس د اِجتماع نه پس يا څهٔ وخت هم پهٔ خپل ځائے کښې د نيک اعمال د ذمه دار نه نور تفصيل حاصل کړئ يا د مكـتبة الـمدينه د **نيک اعمال** رساله پهٔ کومه کښې چې د زيات عمر د اِسلامي وروڼو د پاره 72 سوالونه جوابونه ليکلے شوي دي، هغه لولئ ◈ د هر سوال نه لاندې 30 خانې دي ◈ د هغه خانو پهٔ ذريعه روزانه جائزه اخلئ! اِنْ شَآءَ الله الْكَرِيم! ډېره فائده به وي ◈ اخلاق به مو ښه کېږي ◈ کردار به مو ښه کېږي ◈ عادتونه به مو ښه شي ◈ پهٔ نيکو باندې به اِستقامت نصيب کېږي ◈ د ګناهونو نه به نفرت کېږي ◈ زړهٔ به روښانه کېږي ◈ د الله پاک محبت به نصيب کېږي ◈ عشقِ رسول به زياتيږي ◈ روحانيت به نصيب کېږي او ◈ د اخرت فِکر به نصيب کېږي-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب!    صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## قرآن ټيچر موبائل ايپلي کېشن

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د قرآنِ کريم د فيضان عام کولو د پاره دعوتِ اِسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کېشن جارې کړے دے، د کوم نوم چې دے: **قرآن ټيچر** (***Quran Teacher***)- پهٔ دې ايپلي کېشن طالبِ علمان د درسِ نظامي، فيضانِ نماز کورس او زکوٰة کورس د دې نه علاوه نور ډير آن لائن کورسونو د پاره رجسټرېشن کولے شي ◈ پهٔ

اسټوډنټ پورټل (**Student Portal**) کښې د خپل آن لائن کلاس د حلو ځلو په باره کښې ځان خبر ساتلے شي ◈ د دعوتِ اِسلامي په دې پليټ فارم باندې تقريباً 55 اِسلامي کورسونه کولے شي ◈ دا ايپلي کېشن د آن لائن کېدونکو کورسونو په باره کښې معلومات (**Information**) ورکوي تاسو هم د خپلې خوښې مطابق د هر يو کورس انتخاب کولے شئ او بغير د څۀ مشکل نه د آن لائن قرآن زده کولو د پاره داخله اخستے شئ- دا ايپلي کېشن ډاؤن لوډ کړئ، پخپله ترينه هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　　　صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! ◈ د هر خالي په ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ په مَدَني چينل لائيو هفته واره مَدَني مذاکره کوي، د راتلونکي خالي په ورځ به هم په مَدَني چينل د ماسخوتن د نمونځ نه پس تقريباً 8:15 بجې اِنْ شَآءَ اللہُ الْکَرِیْم! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي ، په کومه کښې چې به شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول دې په دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت اوکړي او نورو له دې هم دعوت ورکړي ◈ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ هره هفته د يوې ديني رسالې لوستلو ترغيب ورکوي، په راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله د خبرو کولو فتنې اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا

رساله د نورو سره هم شېئر (**Share**) کړي! ◈ مکـتبة الـمدينه د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه له طرفه د عاشقانِ رسول پهٔ زړونو کښې د الله پاک د ملاقات د شوق پېدا کولو د پاره نوې رساله پهٔ نوم د **اللہ پاک سے ملاقات کا شوق** شائع کړې ده-

دا رساله د مکـتبة الـمدينه د يوې څانګې نه پهٔ **25** روپۍ پهٔ بيعه حاصل کړئ-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## مياشت د قافله

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دعوت اسلامي يو څلي بيا نمانځې :د15 اکتوبر نه تر 15 نومبر پورې مياشت د قافلې.

پهٔ کومه کښې چې به د ټول ملک نه عاشقان رسول پهٔ12مياشتو،يوه مياشت،12ورځو او 3ورځو قافلو کښې شرکت کوي.ياد ساتئ!د نيکۍ دعوت ورکول او پهٔ دې لاره کښې مشقت برداشت کول د انبياؤ سنت دې،انبيائے کرام،صحابهٔ کرام،نيک خلق به د خپلو کورونو نه وتل،لرې لرې علاقو ته به تلل،هجرتونه به يې کول،تکليفونه به يې برداشت کول او د دين پيغام به يې عام کولو،د مخکښينو خلقو پهٔ قربانو مونږ ته دا دين رارسيدلے دے.

تاسو هم پهٔ مياشت د قافلې کښې د سفر کولو نيت وکړئ!که کيدے شي نو هم نن خپل نيت وليکئ!اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم!ډير برکتونه به ميلاؤ شي، پهٔ قافله کښې فرض علم دين ښودلےشي، سنت ښودلے شي، د تهجدو کولو سعادت ميلاويږي ،د نيکۍ د دعوت عام

کولو موقع میلاویږي ،د قافلې په برکت سره دعاګانې قبلیږي،مشکلات لرې کیږي،د بیماریانو نه د شفا میلاویدو په سلګونو واقعات دي،داسې هم شوي دي چې په قافله کښې د سفر کوونڪو د ډاډګیرنې دپاره خوږ آقا،مکي مدني مصطفی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کرم فرمائیلے او په خوب کښې یې ورله تشریف راوړے او د قافلې شرکاؤ له یې د دیدار جامونه ورکړي. الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفیق راکړي.

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بیان په اخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د یو څو آدابو بیانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی كَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت اوکړو هغه زما سره محبّت اوکړو او چا چې زما سره محبّت اوکړو هغه به په جَنَّت کښې زما سره وي- (1)

سینه تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جَنَّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## د رانجو پورې کولو سُنَّت او آداب

**د اخِري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** په ټولو رانجو کښې بهترین رانجه اِثمد دې ځکه چې دا نظر روښانه کوي او بانه راټوکوي- (2)

---

1...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

2...ابن ماجه، کتاب:الطب، باب:الکحل بالاثمد، صفحه:566، حدیث:3497۔

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د کاڼي د رانجو په اِستعمالولو کښې هيڅ باک نشته او ◈ تور رانجه يا ګَجَل په قصد د زينت (د ښائسته کېدو په نيت ]سره د نارينؤ د پاره پورې کول مکروه دي او که چرې زينت مقصد نۀ وي نو بيا مکروه نۀ دي ◈ رانجه د شپې د اودۀ کېدو په وخت پورې کول سُنَّت عمل دے ◈ د رانجو پورې کولو د 3 نقل شوو طريقو خلاصه ستاسو په خِدمت کښې وړاندې کووم: (1): کله په دواړو سترګو کښې 3،3 سلاياني (2): کله په ښى سترګه کښې 3 سلاياني او په ګڅه سترګه کښې 2 (3): نو کله په دواړو سترګو کښې 2،2 او بيا په اخِره کښې يوه سلائي په رجړومه [د رانجو ګسوړه] کښې ووهئ او هغه په نمبر نمبر په دواړو سترګو کښې پورې کړئ د داسې کولو سره به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! په درېو واړو طريقو باندې عمل کېږي۔

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د تکريم چې خومره هم کارونه وو هغه ټول به زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ښي اړخ نه شروع کول، ځکه وړومبے په ښى سترګه کښې رانجه پورې کړئ او بيا په ګڅه کښې۔[1]

عجب نہیں کہ لکھا لوح کا نظر آئے! | جو نقشِ پا کا لگاؤں غبار آنکھوں میں[2]

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه د بهارِ شريعت جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي

[1]...550 سنتیں اور آداب، صفحه:38۔

[2]...سامانِ بخشش، صفحه:147۔

دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او وه يې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

| | |
|---|---|
| اُلفتِ مصطفٰے اور خوفِ خُدا | چاہئے گر تمہیں قافلے میں چلو |
| عِلم حاصِل کرو، جَہل زائِل کرو | پاؤ گے راحتیں قافلے میں چلو |

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد